# رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو په غلام او آزاد، نارينه او ښځينه، کوچني او لوی باندې يو صاع خرما، يا يو صاع وربشې د فطر صدقه فرض کړې ده، او امر يې کړی چې عيدګاه ته له وتلو مخکې دې ادا کړی شي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو په غلام او آزاد، نارينه او ښځينه، کوچني او لوی باندې يو صاع خرما، يا يو صاع وربشې د فطر صدقه فرض کړې ده، او امر يې کړی چې عيدګاه ته له وتلو مخکې دې ادا کړی شي.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان نه وروسته د فطر زکات فرض کړی دی، چې اندازه يې يو صاع ده او وزن يې څلور لپې ده. المُدُّ: د منځمهالي سړي لپه، له خرما يا وربشو څخه پر هر مسلمان؛ ازاد او غلام، نر او ښځه، وړوکي او لوی واجب ده، البته هغه ځوک چې خواړه يې د يوې شپې او ورځې څخه اضافي وي، د ځان او هغه چا لپاره چې دوی يې سرپرستي کوي. او امر يې کړی چې عيدګاه ته د خلکو له وتلو مخکې دې ادا کړی شي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee